تواضع

یوه ورځ محمد رسول الله (ص) او ملګرو یې په یوه دښته کې پسه حلا لاوه. یوه وویل: «حلال به یې زه کړم.» بل وویل: «پوست به یې زه وباسم.» دریم وویل: «پوخ به یې زه کړم.» څلورم هم یوکار په غاړه واخیست.

محمد رسول الله (ص) وفرمایل: (زه به خس راوړم.) ملګرویې وویل: «یا رسول الله (ص)، تاسې آرام کښئ!» محمد رسول الله (ص) وفرمایل: «دخدای (ج) داخوښه نه ده چې یو بنده تر نورو ځان اوچت وګڼي.» پخپله مبارک خس راټول کړل او رایې وړل.

لمونځ

دسهار لمونځ څلور رکعته دی. دوه رکعته سنت او دوه رکعته فرض دي . دماسپښین لمونځ لس رکعته دی. څلور رکعته سنت، څلور رکعته فرض او دوه رکعته سنت دي . دمابنام لمونځ پنځه رکعته دی. دري رکعته فرض اودوه رکعته سنت دي. دوه نورلمونځونه هم شته چې یو څلور رکعته فرض او بل دوه رکعته دی. دهر لمانځه دپاره اول اودس کېږي.

ADIC
B
6.50
WAR
4405

د چاپ حق د مولف دی

Teacher's Guide Syllabic Reading and Writing Mother and Child Health Selecled lessons

By

Prof. Dr. Guljan Wror Wardak
5th Floor, KHYBER WIEW Plaza Jamrod Road. Peshawar
Tel: 44392 ACBAR
1994 (1373) 2rd Edition

۷۱

مه کوه په چا چې وبه شي په تا

یوه سړي پاچاته وویل: «ستادوست وایي چې دپاچا دخولې نه بوی ځي.»

بیا یې دپاچا دوست ته په ډوډۍ کې اوږه ورکړه. دوست چې دربار ته راغی، خولې ته یې لاس ونیو. پاچا ته خبره ربښتیا ښکاره شوه. پاچا یو فرمان حاکم ته ولیکه اودوست ته یې ورکړ. په فرمان کې یې لیکلي وو:

«دلیک درورونکی اعدام کړه.» حاسد وویل چې دابه دانعام فرمان وي. دپاچا ددوست نه یې فرمان ترلاسه کړاوحاکم ته یې ورکړ. حاسد اعدام شو.

دوهم مخ

هدف:

د پاسنيو رسمونه د کلمو د ورستيو آوازونو له توريو څخه -ی، ي، ی، ئ) د (ا،ب) سره اته هجاوي او له هجاووڅخه کلمې، له کلمو څخه جملې جوړول، لوستل او ليکل.

د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت
۱-د زده کوونکو د نومونو څخه يو يو کارت پورته کوي	- دوی چې د ښوونکي په لاس کې په کارت ليکل شوی نوم وينې د خپل نامه سره چې ورسره دي پرتله کوي که دواړه نومونه يو ډول وو نو هغه زده کوونکی چې د ښوونکي په شان کارت لري حاضر وايي او ځان حاضروي.
۲-د زده کوونکو کورنۍ وظيفه وګورئ بيا د نومونو په پورته کولو سره يوه يوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې خپله کورنۍ وظيفه له کتابچې څخه خپلو ټولګي والوته ولولي.	- زده کوونکي خپله خپله کورنۍ وظيفه د ښوونکي کتلو ته چمتو کوي د ښوونکي اصلاحات په نظر کې نيسي او خپلو ټولګي والوته يې د نوبت ترور کولو وروسته لولي.
- د (۲) عدد په تخته وليکئ او زده کوونکو ته ووايئ چې د کتاب (۲) مخ را واړوي او د (۲) پرعدد په کتاب کې ګوته کيږدي.	- ز ده کوونکی د (۲) عدد ليکلو ته ګوري د کتاب (۲) مخ خلاصوي او د کتاب په پاسنۍ برخه کې د (۲) پر عدد باندې هر يو ګوته ږدي.

دښوونکي فعالیت	دزده کوونکي فعالیت
۳- لومړی رسم د څه شي دی؟	- (رمبی)
- څوک به داسې نومونه راته ووایي چې وروستی آوازیې (رمبی) په شان وي؟ اوزه به یې په توره د ړه لیکم:	- لرګی، وری، سپری، منګی
- د څلورو نومونو وروستی توری ولې یو ډول ښکاري؟	- څکه چې وروستی آوازیې یو ډول دی.
- که د (رمبی) تر ورستي توري د مخه د انګور لومړی توری راشي (ای) لوستل کیږي څوک به راته ووایي چې که د (ا) په ځای د برس لومړی توری راشي څه به ولوستل شی؟	- بی
-زده کوونکو ته ووایی چې د برس د لومړي توري په ځای د خپل نامه لومړی توری راوړي څه ډول هجا به شي.	- هوسی (هی) ګلالی (ګی) شیما (شی)
- د دوهم ستون په پاسنۍ برخه کې څه شی رسم شوي؟	- لرګي
- څوک به داسې نومونه راته ووایي چې آوازیې د لرګي په شان پای ته ورسیږي؟	- وري، کالي، والي، ګلابي
- د دغه څلور وکلمو وروستی برخه ولې یو ډول ښکاري؟	- څکه چې وروستی آواز د ټولو یو ډول دی.
- د لرګي د ورستی آواز تر توري د مخه که د انګور لومړی توری راشي (اي) به ولوستل شي څوک به راته ووایي چې که د انګور د (ا) په ځای د (برس) لومړی توری راشي څه به ولوستل شي.	- بي

دښونکي فعالیت	دزده کړونکي فعالیت
-هرزده کړونکي ته نوبت ورکړی چې دبرس د (ب) پرځای دخپل نامه لومړی توری کېږدي او جوړه شوبې هجا تلفظ کړي.	
-په دریم ستون کې دشپیلی رسم دی څوک به داسې نومونه راته ووایې چې وروستی اوازیې دشپیلی په ډول وي ؟	-خولی ،څپلی ، کوڅی ، ابی
-دشپیلی دوروستي آوازتر توری دمخه (ی) که دانګور لومړی توری راشي (ای)لوستل کېږي که دانګور دلومړی توری په ځای دبرس لومړی توری راشي څه به ولوستل شي ؟	-بی
-زده کړونکو تاووایې چې د (ب)توري په ځای دخپل نامه لومړی توری کېږدي اوجوړه شویې هجا تلفظ کړئ .	
-په څلورم ستون کې رسم نشته خو د (ئ)توری دامر په اخر کې راځي لکه (خورئ ،څئ) که دخورئ تر وروستي توري دمخه د انګور لومړی توری راشي (ای) به ولوستل شي که دبرس لومړی توری د (ا) په ځای راشي څه شی به ځنی جوړشئ .	-بئ
-همدارنګه ستاسې دنامه لومړی توری که تر (ئ) دمخه راشي څه شی به ولوستل شي؟	-شکریه (شئ) نوربې بې (ئې)

دښوونکي فعاليت	دزده ګرونکي فعاليت
٤-څوک به ترر مبي لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-اى، بى
-څوک به تر لرګي لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-اي، بي
-څوک به تر شپيلۍ لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-ای، بی
-څوک به دځلورم ستون دوې هجاګاني ولولي ؟	-ائ، بئ
-څوک به دلومړی کتار څلور هجاګاني ولولي ؟	-ای، اي، ای، ائ
-څوک به ددوهم کتار څلور هجاګاني ولولي ؟	-بی، بي، بی، بئ
-څوک به دلومړي ستون دوې هجاګاني له بنکته نه پورته ولولي ؟	-بی، ای
-څوک به ددوهم ستون دوې هجاګاني له بنکته نه پورته ولولي ؟	-بي، اي
-څوک به ددريم ستون دوې هجاګاني له بنکته نه پورته ولولي ؟	-بی، ای
-څوک به دځلورم ستون دوې هجاګاني له بنکته نه پورته ولولي ؟	-بئ، ائ
-څوک به داول کتار څلور هجاګاني له کيڼ لوري څخه ولولي ؟	-ائ، ای، اي، ای
-څوک به ددوهم کتار څلور هجاګاني له کيڼ لوري څخه ولولي ؟	-بئ، بی، بي، بی
٥ -دهجاګانو تر جدول لاندې دري کلمې ولولئ ؟	-با آبه، بي بي، بې آبی
-اوله کلمه څوهجاګاني لري څه شی اوڅه شی ؟	-٣هجاګاني ،با ، آ ، به
-دوهمه کلمه څوهجاګاني لري څه شی اوڅه شی ؟	-٢هجاګاني، بي ،بي
-دريمه کلمه څوهجاګاني لري څه شی اوڅه شی ؟	-٣هجاګاني بې، آ، بي
-ددوهم مخ په پای کې څلور جملې دځان سره ولولی .	د ٢مخ جملې دځان سره لولي
-اوزاځان ته معلومه کړئ چې دچا اوچانه څوک څه شی غواړي ؟	دبابو اوبي بي نه اوبه غواړي. دبي بي لمسی دبي بي نه اوبه غواړي.
-يوه زده کوونکی ته ويل کېږي چې لومړی جمله په لوړ آواز اوسمه لهجه ولولي.	-چا ته چې دکارت په پورته کولوسره نوبت ورکول کېږي هغه ټاکلی ځای لولي.
-بل تن ته وظيفه ورکول کېږي چې دوهمه جمله ولولي.	
- يو يا دوه تنه نوبت اخلي چې دريمه جمله ولولي .	
-څلورمه جمله هم په يوه زده کوونکي لوستل کېږي.	

دښوونکي فعاليت	دزده ګروونکي فعاليت
-څوک به دلومړی جملې کلمې له کښې لوری ولولي؟	-بې آبې ، بابو
-دهرې جملې کلمې په نوبت سره په زده کوونکو له کښې لوری ولولئ؟	بابو ، بې آبه. اوبه ، بابو ، او . اوبه ، بې بې ، او
-زده کوونکو ته ووایی چې په متن کې هغه کلمې پیدا کړئ چې په (ا) پیل ګیږي؟ همدا رنګه په (ب) پیل کیږي.	او ، اوبه ، بابو ، بې آبې ، بې آبه ، بې بې

٦-په کتابجو کې دليکلو مشق:

-ښوونکی ترڅو مبی لاندې توري (ی) ته اشاره کوي او پوښته کوي چې دغه توری د کومې کلمې په پای کې راځي؟ زده کوونکی وایی د (رمبی)

-زده کوونکی به د (ی) توری د کتاب څخه په کتابچو کې لس لس ځله لیکي .

-په مناسب وخت را تلو سره زده کونکو ته وظیفه ورکول کیږي چې په یوه کرښه د (ای) هجا په بله کرښه د (بی) هجا اته اته ځله ولیکي .

-همدا ډول ترلرګي لاندې توري ته اشاره وکوی چې (ي) دا توری د کومې کلمې په پای کې راځي. زده کوونکي ممکن ووایی د لرګي بیا ورته ووایی چې د (ي) تورپه کتابچو کې لس لس ځله ولیکي .

-ښوونکی تر شپیلی لاندې (ی) ته اشاره کوی او وایي چې دا توری د کومې کلمې په پای کې راځي . یو زده کوونکی جواب ورکوي شپیلی . خولی ، ترهغه وروسته زده کوونکي د (ي) توری لس لس ځله همدا رنګه د (ای) او (بی) هجاګانې اته ،اته ځله په کتابچو کې له کتاب څخه لیکي. په همدې ډول د (ئ) توری اود (ئ) ، (ښ) هجاګانې دلیکلو مراحل لري.

٧-کورنۍ وظیفه:

ددوهم مخ ترجدول لاندې کلمې اوجملې هرزده کوونکی د کتاب په شان له کتاب څخه په کتابچو کې دوه دوه ځله لیکي اوسبا ته یې په ټولګي کې په نوبت سره لولي ټول زده ګوونکي دلوستلو په وخت کې لوستونکی په خپلو کتابجو کې تعقیبوي یعنې خپلې لیکنې ورسره پرتله کوي.

دریم مخ

هدف:

دښي لوري دشپېلی او رمبی درسمونو دلومړیو آوازونو توري (ش، ر) پېژندل، له هغه څخه اته هجا ګاني ، څلور کلمې اوڅلور جملې جوړول ، لوستل اولیکل.

دښوونکي فعالیت

۱-ښوونکی دحاضری اخستلو په وخت کې خپل نوم لکه (شېریفه)په تخته لیکی اودخپل نامه تر دوهم توري لاندې کرښه کاږي. همدارنګه کله چې دزده کوونکودنامه کارت پورته کوي.

-ښوونکی دهغه زده کوونکي نوم په توره دږه لیکي.

۲-کورنۍ وظیفه ګوري.داسي اصلاحات چې عام وي په توره دږه یې داصلاح ډول تولوزده ګوونکو ته ښه یې.

-څوک به خپله کورنۍ وظیفه په لوړ آواز ولولي. سوال به عمومي وي جواب به انفرادي وي .

-دیوه زده ګوونکی نوم پورته کوي.

دزده کوونکي فعالیت

-زده ګوونکي حاضر وایي

-زده کوونکی ورځي دخپل نامه تر دوهم توري لاندې کرښه باسي. لکه (زېرمینه)

-ټول زده کوونکي نامه ته ګوري خپل نومونه ورسره پرتله کوی دپورته شوي نامه څښتن ددو هم مخ کلمې اوجملې دخپلې کتابچې نه لولي نورټول خپلې لیکنې دلوستلو په وخت کې له کتابچو څخه ورسره پرتله کوي.

دښوونکی فعالیت

۳-په توری ډډه د (۳) عـدد په ډیر غـور ولیکی او زده کوونکوته ووایئ چې دخپلوکتابونو (۳) مخونه راواړوی اود (۳) پرعدد گوته کیږدی.

-دښي لوری لومړی رسم دڅه شي دی؟

ښوونکی يې په غور ليکي. (نسخ) دکتاب په شان.

-څوک به داسې نومونه راته ووايي چې دښي لوري لومړی آواز يې دشپېلی په شان وی!او زه به يې په تورډډ ليکم!

-دشال، شړی، شولې، شريف دلومړي توري ولې يو ډول ښکاري؟

-دښي لوري دوهم رسم دڅه شي دی؟

-څوک به داسې نومونه راته وو ايي. چې لومړی آوازيې د (رمبی) په شان وي؟

-ولې دڅلورووارډه نومونو لومړی توری يو ډول ښکاري؟

٤-د دريم مخ پاسنی ځلور کلمی دخان سره ولولئ؟

-ترهري کلمې لاندې دهغه کلمې کوم توری ليکل شوی

-دشپېلی دکلمې له لومړي توري اودبابا دکلمې له وروستي توري څخه جوړه شوې هجا څنګه لوستل کيږي؟

-همدارنګه درمبی دکلمې دلومړی توري څخه ډول هجا جوړيږي؟

-دشپېلی دکلمې دلومړي توري اودبابه دکلمې دوروستي توري هجا څه شی ده؟

-همدا ډول درمبی او بابه دکلمو هجا؟

دزده کړونکی فعالیت

-دريم مخ را اړوي او د (۳) پرعدد گوته ږدي

-دشپېلی

شال، شړی، شولې، شريف

-څګه چې يو، ډول آواز لري يو ډول آوازونه يو ډول ليکل کيږي.

-رمبی

-روژه، رڼا، رسی، روپی،

-څکه چې لومړي آوازونه يې يو ډول دي.

-بابا، بابه، بې، بابو

-وروستی توری (آ، ه، ې، و)

-شا

-را

-شه

-ره

دښونکی لارښود	دزده کوونکی لارښود
-دشپېلی دلومړي توري اود (بې) دوروستي توري هجا څه شي ده؟	-شې
-درمبی دلومړي اودبې دوروستي توري هجا څه شی ده؟	-رې
-دشپېلی دلومړي توري او دبابو دوروستي توري هجا څه شی وه؟	-شو
-درمبی دلومړي توري اود بابو دوروستي توري هجا څه شی ده؟	-رو
-دلومړی کتار څلور هجا ګاني اول دځان سره ولولي؟بيا يوه يوه تن ته نوبت ورکول کېږي چې په لور آوازيې ولولي سوال عمومي ، جواب انفرادي؟	-شا ، شه ، شې ، شو
-ددوهم کتار څلور هجا ګاني اول دځان سره ولولئ؟ بيا يوه يوه تن ته نوبت ورکول کېږي چې په لور آوازيې ولولئ؟	-را ، ره ، رې ، رو
۵-ترهجا ګانو لاندې لومړی کلمه څه شی ده؟	-باره
-دځو هجا ګانو څخه جوړه شويې؟	-له ۲ (با ، ره)
-دوهمه کلمه څه شی ده؟	-بوره
-دځو هجاګانو څخه جوړه شويې؟	-له ۲ (بو ، ره)
-دريمه کلمه څه شی ده له څوهجا ګانو جوړه شويې؟	-شابي بي له ۳هجاګانو څخه (شا ، بي ، بي)
-څلورمه کلمه څه شی ده؟	-راشه
-له څو هجا ګانو او کومو کومو څخه جوړشوې ده ۰	-له ۲ (را ، شه)
-ترکلمو لاندې څلور جملې دځان سره ولولی اوداځان ته معلومه کړئ چې په دريمه جمله کې بايد څوک ورشي.	-دپتې خولې تر خلاصېدلووروسته دبوه زده کوونکي جواب بايد (شابي بي) وي.
-په څلورمـــه جـــمله کـــې بايد څـــوک ورشي؟	-بابه

-په دوهمه جمله کې باید څوک ورشي؟ -بابا

-اوله کرښه به څوک په لوړ آواز ولولي؟ -شابي بي، راشه!

-دیوه زده کوونکی نوم (پورته کوي)؟ -راشه، شابي بي.

-دریمه کرښه به څوک ولولي؟

-څلورمه کرښه ولولئ؟ دنامه د پورته کولو سره نوبت اخستل کیږي. -بابه، راشه.

دښوونکي فعالیت

-یوه زده کوونکي ته ویل کیږي چې دوې لومړۍ کرښې ولولي؟

-یوه زده کوونکي ته ویل کیږي چې دوې وروستۍ کرښې ولولي؟

-یوه زده کوونکي ته ویل کیږي چې څلور واړه کرښې ولولي؟

-څلور واړه جملې هره یوه یو یو زده کوونکی دکښ لوري څخه کلمه په کلمه لولي.

-په دریم مخ کې کومې کلمې په (ر) او کومې کلمې په (ش) پیل کیږي، راشه، شابی بی،

٦-په کتابچو کې دلیکلو مشق!

ښوونکی دشپږلی دلومړي آواز توری په تخته په ډېر غور لیکي، زده کوونکي ورته گوري بیا بې هر یوزده کوونکی دکتاب څخه په کتابچو کې په یوه کرښه لس لس څله لیکي. ښوونکی په ټولګي کې گرځي لازمه مرسته کوي او تر مناسب وخت تېرپدو وروسته دبل فعالیت د پیل خبر اعلانوي.

-په همدی ډول درمبی دلومړي آواز دتوري په برخه کې هم فعالیتونه دوام کوي.

-اته هجاګانې هره یوه په یوه کرښه اته اته څله په ډېر غور دکتاب په شان په کتابچو کې لیکي.

۷-کورنۍ وظیفه :زده کوونکو ته ویل کیږي چې د (۳) مخ تر هجا ګانو لاندی اول څلور کلمې بیا څلور جملې دکتاب په شان په نسخ په ډېر غور ولیکي. یوځل بیا پورتنۍ لیکنه تر اول څله لاښه ولیکي. ترڅو هر زده کوونکی وکوه لای شي چې سبا ته خپله لیکنه په ټولګي کې ښوونکي او ټولګي والوته په لوړ آواز ولولي او نور زده کوونکي خپلې لیکنې ورسره پر تله کړي که دهرچا دکورنۍ وظیفې کومه برخه چې واضح نه وي لیکل شویې دکتاب څخه به بې اصلاح کړي.

څلورم مخ

هدف : د (ش، ر) دتوريو اودپاس څلورو توريو (ی، ي، ې، ئ) څخه اته هجا ګاني جوړول . له هجا ګانو څخه کلمې ، له کلمو څخه جملې جوړول لوستل اوليکل.

دښوونکی فعالیت

۱-دزده کوونکو دنامه کارت پورته کېږي.

۲-ددريم مخ ډکلمو اوجملو کتل او اصلاح کول

-څوزده کوونکو ته نوبت ورکول کېږي چې دکتابچې څخه کورنۍ وظيفه په ټولګي کې ولولي.

۳-د (٤) عدد په توره دېره وليکي او زده کوونکو ته ووايي چې څلورم مخ راواړوي او هر زده کوونکی په (٤) ګوته کېږدي .

-زده کوونکو ته ووايئ چې پاسنۍ څلور کلمې دخان سره ولولي اووروستي توري يې تر لاندې ورسره پرتله کړي.

٤-ددريم مخ داول رسم دکلمې له لومړي توري او دځلورم مخ دپاسنۍ اولې کلمې له وروستي توري څخه هجا جوړه کړئ؟

-په همدې ډول ددوهم رسم اواولې کلمې له وروستي توري څخه هجا جوړه کړئ؟

دزده کوونکی فعالیت

-خپل نوم واېي اودوهم توری يې تلفظ کړي

-خپله کورنۍ وظيفه ښوونکي ته ښکاره کول

-دټولګيوال دلوستلو په وخت کې خپلو کتابچو ته ګوري ، که کوم ځای اصلاح ته اړه لري هغه په نښه کېږي او دکتات په شان اصلاح کېږي.

-د (٤) عدد ليکلو ته ګوری دخپلو کتابونو څلورم مخ راواړوي. اود (٤) په عدد ګوتې ږدي.

-زده کوونکی پاسنۍ څلور کلمې لولي ،دهر کلمې وروستی توری ترهغه لاندې توري سره پرتله کوي

-شی

-ری

بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی مخ

هدف:

دد ډورسمونو د کلمو د لومړيو آوازونو له تورېو څخه (ا،ب) او د څلورو رسمونو د کلمو د ورستيو آوازونو له تورېو څخه (آ، ه، ي، و) اته هجاوي له هجاو څخه کلمې اوله کلمو څخه جملې جوړول، لوستل اوليکل.

دښوونکي فعاليت:

۱-دزده کوونکو نومونه چې ښوونکي مشقي ليکلي يو يو په لوړ آواز لولي

-ښوونکی خپل نوم په تخته ليکي، د لومړي آواز تر تورې لاندې او د وروستي آواز تر تورې لاندې نرۍ خط کاږي لکه ښ ريفه

-ښوونکی د يوه يوه زده کوونکي نوم په توره ډډه ليکي.

دزده کوونکي فعاليت :

-يو يو زده کوونکی ورځي خپل نوم اخلي .

-زده کوونکي په دې ځان پوهوي چې د بيل بيل آواز د پاره بيل بيل تورې يا شکل تاکل شوی.

-زده کوونکي خپل ورسره نومونه ورسره پرتله کوي . دهر چا نوم چې ليکل شوی وي هغه د لاړې پرې تختې ته ورځي د واړه نومونه سره مقايسه کوي او په لوړ آواز دوه ځله يعني د تورې د پاسه او د کاغذ خپل نوم لولي. بيا د تختې ليکلي نامه د لومړي آواز او وروستني آواز د تورې تر شکل لاندې خط کاږي لکه:

زرمينه

يادونه : د درس تر پيل د مخه پوهونکی په لاړښود ځان پوهوي د تدريس په وخت کې په تولګي کې د لاړښود په لوستلو دزده کوونکو اوخپل وخت نه ضايع کوي.

دښوونکي فعاليت	دزده کوونکو فعاليت
-ددريم مخ د (ش) دتوري اودځلورم مخ ددوهمې کلمې له وروستي توري (ي) څخه دزده کوونکي هجا جوړه کړي	-شي
-ددريم مخ د (ر) دتوري اوځلورم مخ ددوهمې کلمې له وروستي توري (ي) څخه دي زده کوونکي هجا جوړه کړي.	-ري
-په هغدي ډول به د (ش، ر)	-شي، ري
له توريو څخه د (بې) دکلمې له وروستي توري اود (ائ) دکلمې له وروستي توري څخه څلور هجاګاني جوړې کړئ ؟	-شئ، رئ
-څوک به دځلورم مخ پاسنۍ کلمات ولولي.	-بابى، بي بي، بى، ائ
-څوک به د (ش) څلور هجاګاني ولولي ؟	-شى، شي، شى، شئ
-څوک به ترلومړۍ کلمه لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-شى، رى
-څوک به تردوهمه کلمه لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-شي، ري
-څوک به تردريمه کلمه لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-شى، رى
-څوک به ترځلورمه کلمه لاندې دوې هجاګاني ولولي ؟	-شئ، رئ
-څوک به داول ستون دوې هجاګاني له ښکته نه پورته ولولي؟	-رى، شى
-څوک به ددوهم ستون دوې هجاګاني له ښکته نه پورته ولولي؟	-ري، شي
-څوک به ددريم ستون دوې هجاګاني له ښکته نه پورته ولولي؟	-رى، شى
-څوک به دځلورم ستون دوې هجاګاني له ښکته نه پورته ولولي؟	-رئ، شئ
-څوک به داول کتار هجاګاني له کيڼ لورې څخه په ښي لورې ولولي؟	شئ، شى، شي، شى
څوک به د دوهم کتار هجاګاني له کيڼ لورې څخه په ښي لورې ولولي؟	-رئ، رى، ري، رى

۵-ترهجا ګانو لاندې څلورکلمې دځان سره ولولئ؟

-اوله کلمه څه شی ده اوڅوهجاګانې لري.

-دوهمه کلمه څه شی ده اوڅو هجاګانې لری.

-دریمه اوڅلورمه کلمه څو څو هجاګانې لری.

دښوونکي فعالیت

دڅلورم مخ تر کلمو لاندې څلور جملي دځان سره ولولئ

اوپه دې ځان پوه کړئ چې څوتنه راځي؟

-څو تنه راځي؟ (سوال عمومی جواب انفرادي)

-څلور تنه څوک اوڅوک دي؟

-لومړی جمله به څوک په لوړ آواز ولولي؟

(دلیکلی نامه دپورته کولو په اساس جواب ورکول کیږي)

-دوهمه جمله به څوک ولولي؟

-دریمه جمله به څوک ولولي؟

-څلورم جمله به څوک ولولي؟

-یوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې دپیل دوې جملې ولولي.

-یوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې دپای دوې جملې ولولي.

-یوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې څلورواړه جملې ولولي.

-باشي ده. دوې هجاګانې لري (با،شي)

-راشئ ده. دوې هجاګانې لري (را،شئ)

-دوې دوې، ،بو،ري. ،با،ري.

دزده کوونکي فعالیت

-دځان سره یې لولي دښوونکي دسوال جواب له متن څخه پیداکوي. څلورتنه راځي.

-بابا، باشي، بابه، شابي بي

-بابا، به راشي.

-باشي، به راشي.

-بابه، به راشي.

-شابي بي، به راشي.

-یوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې لومړی جمله له کینې لوري کلمه په کلمه ولولي.

-یوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې دوهمه جمله له کینې لوري کلمه په کلمه ولولي.

-یوه زده کوونکي ته نوبت ورکړئ چې دریمه جمله له کینې لوري کلمه په کلمه ولولي.

٦-په کتابچو کې دلیکلو مشق: ددوهم مخ په شان دې دلیکلو مشق اجرا شي.

-خو دلیک ډول دښوونکي اوزده کوونکی د پاره د کتاب په شان نسخ دی.

٧-کورنۍ وظیفه: ددریم مخ په شان دځلورم مخ څخه کورنۍ وظیفه ورکول کیږي. دښوونکي اوزده کوونکو لیکل به د کتاب په شان نسخ وي.

نوټ: دپاتې (٣٦) مخونو دښوونکي لارښود دجفتو مخونه دځلورم مخ په شان اودنا جفتو مخونو ددریم مخ په شان دی. ښوونکی د درس تر پیل دمخه دښوونکي په لارښود د ځان پوهوي. په ټولګي کي دلارښود په لوستلو خپل اودزده کړونکو وخت نه ضایع کوي. په درناوي. ستاسې درور

هدف: **يوځلوينښتم مخ**

دپاسني جدول دکلمو دپيل دتوريو اودلاندني جدول دکلمو دوروستيو توريو تلفظ اودکلمو لوستل اودمتن اووه جملې بامفهومه لوستل.

دښوونکي فعاليت

۱-دنومونو دکارتونو په پورته کولو سره دزده کوونکو حاضري واخلئ.

۲-کورنی وظيفه کنټل، اواصلاح کول.

-د(٤٠)مخ پنځه جملې املا ويل:

۳-په تخته د(٤١)عدد وليکئ اوزده کوونکوته ووايئ چې (٤١)مخ راواړوي.

٤-دپاسني جدول دکلمو دپيل دتوريو تلفظ دځان سره وګوري. اودهر توري تلفظ چې نشئ کولای ګوته موپورته کړئ زه به يې په تلفظ کولو کې مرسته درسره وکوم.

(سوال عمومي کوئ جواب انفرادی غواړئ.)

-څوزده کوونکوته نوبت ورکړئ چ د(۱۲) کلمو شپږدپيل آوازونه په لوړ آواز په ټولګي کې تلفظ کړي.

-زده کوونکوته ووايئ چې دکلمو دپيل دتوري تلفظ اوپاتې هجاپه کلمو کې دځان سره ولولي

-څوزده کوونکوته نوبت ورکړئ چې کلمات په لوړ آواز ولولي.

-زده کوونکوته ووايی چې دلاندني جدول دکلمو دوروستيو

دزده کوونکو فعاليت

-هر زده کوونکی چې خپل نوم وښي صاحب وايي اوځان حاضروي.

-د(٤٠)مخ ترلوستلو ورسته چې کورنی وظيفه اجراشوې ښوونکي ته ښودل

-پنځه جملې داملاپه ډول ليکل اودکتاب سره پرتله کول

-(٤١)مخ راواړوي اوپه (٤١)عدد ګوته ږدي.

-زده کوونکي دځآن سره د ا، ب، پ، ت، ټ، ث، آوازونه تلفظ کوي که کوم توری نشي تلفظ کولئ ګوته پورته کوي ښوونکی ورځي په تلفظ کولوکې يې مرسته ورسره کوي.

ا، ب، پ، ت، ټ، ث،

-ا، ره=اره، ب ری=بری....

-اره، انار، بری، بګی، پنې، پټو..

دښوونکی فعالیت

یوه یوه توري آوازونه دغان سره تلفظ کړي.

-زده کوونکوته ووایئ چې دلاندني جدول کلمې دغان سره ولولي (تروروستي توري مخکې هجادې دوروستي توري له آواز سره یو غان ولولی.

-څوتنوته نوبت ورکړی چې دجدول کلمې په لور آوازولولي. (دکلمو په لوستلو کې باید زده کوونکي په دې پوه شي چې دکلمې تر ورستي توري مخکې هجا دیوه توري اویوه په ستر گولیدل کیدونکي حرکت څخه جوړه شویې اودکلمې وروستی توری دمخکنی هجا سره یو ځای تلفظ کیږي).

۵-زده کوونکوته ووایی چې دمور خورته څه وایی؟

-ترور په تخته ولیکی.

-زده کوونکو ته ووایئ چې تر لومړي جدول لاندې عنوان دغان سره و لولي اودلوستلو په وخت کې دپاسني جدول دپیل دتوري په شان اودلاندني جدول دورستي توري په شان دعنوان پیل اوپای ته پام وکړي اوتوله کلمه دغان سره ولولي.

دزده کړونکی فعالیت

زده کـــوونکي د (ر، س ک، ټ، ل، ړ، دډ، م)، توریو آوازونه دغان سره تلفظ کوي. په کوم غان چې نه پوهیږي گوته پورته کوي ښوونکی ورځي مرسته ورسره کوي.

-با-ر=بار

پا-س=پاس

تا-ک=تاک ....

-دپیل توری، حرکت، ساکن





ترور

-ت رو ر



دېرونکي فعاليت

-يوه زده کوونکي ته ووايئ چې عنوان په لور آواز ولولي.

-وظيفه ورکړئ چې دمتن او وه جملې دځان سره ولولي اوستاسي دغو پوښتنوته ځوابونه پيدا کړي. سوالونه په تخته وليکئ

۱-هوسی دچا لور ده

۲-دپلار دخوراودموز دخورنومونه څه دي؟

-تر پتې خولې لوستلو وروسته له خوزده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ چې داول اودوهم سوال جوابونه ووايي.

اونور ټولګيوال دهغه جوابونه دکتاب په استناد کره کړي.

-خوزده کوونکو ته نوبت ورکړئ چې دوې يا دري جملې په لور آواز ولولي.

-زده کوونکو ته ووايئ چې هغه جمله پيدا کړي چې په کې دلوستونکي دترورزی نوم راغلی.

-يوه زده کوونکی ته نوبت ورکړئ چې هغه په لور آواز ولولي.

-زده کوونکو ته ووايئ چې هغه جمله دځان سره ولولي چې دلوستونکي دمور دخور نوم په کې راغلی؟ بيادبو تن هغه په لور آواز ولولي.

-دخويندو بيان په کومو جملوکې راغلی؟

-يوه تن ته نوبت ورکړئ چې هغه په لور آواز ولولي.

-ددووخويندو بيان په کومه جمله کې راغلی؟

-يوه تن ته نوبت ورکړئ چې هغه په لور آواز ولولي.

-لوستونکی دخپلې ترور بيان په کومه جمله کې کوي.

دزده کوونکو فعاليت

-ترور

-زده کوونکي متن دځان سره لولي اوداځان ته معلومه وي چې دهوسی دمور نوم (حوره) دی، اوددواړو نومونه يې (ليلا او حوره) دي.

-هوسی مې دمور خورځه ده.

-مورمې دحورې خور ده.

-مورمی دحورې خور ده.

-ليلا مې دپلار خور ده. نازومې خور ده.

-مورمې دحورې خور ده

حوره مې ترور ده

٦-په کتابجو کې دلیکلو مشق :

که لاندنۍ جملې تاسې لیکلې وي نو دد غو سوالونو جوابونه په ډیر غور له کتاب څخه په خپلو کتابجو کې ولیکئ.

-ښوونکی په تخته سوال لیکي. زده کوونکي په کتابجو کې له کتاب څخه جواب لیکي.

کله چې زده کوونکو دیوه سوال جواب په کتابچو کې ولیکه بیا ښوونکی بل سوال په تخته لیکي.

-څوک دې دپلار خور ده ؟	-لیلا مې دپلار خور ده
-څوک دې دمور خورځه ده؟	-هوسی مې دمور خورځه ده.
-څوک دهوسی تروروزی ده؟	-نازو دهوسی تروروزی ده.
-دنازو ترور څوک ده؟	-حوره دنازو ترور ده.
-دحورې خور څوک ده؟	- مورمې دحورې خور ده.
-څوک دې ترور ده؟	-حوره می ترور ده.
-څوک دخور ده؟	-نازو مې خور ده.

۷-کورنۍ وظیفه :

الف -د (٤١) مخ دجدولونو له کلمو څخه دکتاب په شان څلور څلورداسې کلمات ولیکی چې په :

۱-ټ پیل کپري. ۲-ټ پیل کپري. ۳- ت پیل کپري. ٤-پ پیل کپري.

ب- په کور کې د (٤١) مخ داوو جملو املا زده کړئ سباته ددرس تر پیل دمخه یې املادرته وایم. ښوونکی دهردرس په پیل کې دپرونې درس څخه املا ورته وایي . اول به زده کوونکي خپلې کتابچی بو بل ته ورکوي هغه به یې اصلاح کوي . بیابه هریو خپله اصلاح شویې املادکتاب سره پرتله کوي او دکتاب څخه به یې غلطی اصلاح کوي.

نوت: د ٤٢، ٤٣، ٤٤، ٤٥، ٤٦، مخونو تدریس یادښوونکی لارښود د (٤١) مخ په شان دتدریس مراحل لري .ښوونکي ته په کاردي چې دټولګي تر ننوتلو دمخه دخپل ورځني تدریس دپاره د (٤١) مخ داوومرحلو ترتیب اوډول دمخ داجاباتو په نظر کې نیولو سره پلان او تدریس کړی.

اووه څلويښتم مخ

هدف: د (ـَ ـِ ـُ او ـْ) حرکات (آوازونو) لکه ـَ (اه) ، ـِ (اې) ، ـُ (او) زده کول او د متن بامفهومه لوستل.

۱-دنومونو د کارتونو په پورته کولو سره حاضري اخيستل.

الف ـ د ٤٦ مخ متن املا ويل.

ب ـ ليکل شوی متن يوبل ته ورکول او اصلاح کول. بيا هر زده کوونکی خپله املا او د ټولګيوال اصلاح د کتاب سره پرتر تله کوي او ناسمې يې سمه وي.

۲ ـ ښوونکی د (٤٧) عدد په تخته ليکي او زده کوونکو ته وايي چې (٤٧) مخ راواړوي او په ټاکلي عدد ګوته کېږدي.

الف ـ د پاسني جدول د ښي لوري شپږ کلمې په زده کوونکو د خان سره ولولئ، که کومه کلمه نشي لوستلای زده کوونکی ګوته پورته کوي، ښوونکی ورځې د هغه کلمې په لوستلو کې مرسته ورسره کوي، ترهغه وروسته چا ته چې په کارت نوبت ورکول کېږي کلمات په لوړ آواز ولولي.

ب ـ تر متن لاندې د ښي لوری شپږ کلمې هم د الف د برخې په شان لوستل کيږي. زده کوونکي هغه د خان سره لولي تر هغه وروسته يې هغه څوک په لوړ آواز ولولي چا ته چې ښوونکی نوبت ورکوي.

د ـ يوه زده کوونکي ته ويل کېږي چې د هډوکي ، هيرا و هوسی د کلمو اول لومړی لومړی هجا تلفظ کړی، بيا د درې واړه هجاووشکلونه په کلمو کې جلا کړي . لکه هـ ډ وکی، هـ ې ر ، او هـ و سی .

کله چې يو زده کوونکی په کلمو کې لومړی لومړی هجا ګانې بېلوي، ټولګيوال يې پام ورته کوي دسم يا ناسم جوابونو ته ځانونه چمتو کوي .

ښوونکی زده کوونکو ته وايي چې د لومړی کلمې په هجا کې څو شکله (توري) او په دوونورو کلمو کې څو څو شکله (توري) دي. هريو زده کوونکی د خان سره د شکلونو (توريو) په شمير لو سره خان جوابونو ته چمتو کوي .

يو څو تنو ته نوبت ورکول کېږي چې نورو ټولګيوالو ته په دليل سره عملي ځرګند کړي چې د لومړی کلمې لومړی هجا يو شکل (توری) او دوې نوری هجا ګانی دوه دوه شکله (توري) دي. ښوونکی دا مت او بلبل کلمې په تخته ليکي د ليکو په وخت کې چې هر توری ليکي هغه تلفظ کوي . بيا څو تنو ته نوبت ورکول کېږي چې د واړه کلمې ولولي .

. ښوونکی زده کوونکو ته وایي چې دامت اوبلبل لومړی توری دکلماتو د پیل په شان تلفظ کړي (او ، بو) اوهم به دامت اوبلبل لومړی توری چې د (او ، بو) آواز لري په کلمو کې وتاکي: امت ، بلبل ښوونکی داسلام ، بستر کلمه په تخته لیکي دلیکلو په وخت کې چې هر توري ته رسمپري دهغه توري آواز داسې تلفظ کوي چې ټول زده کوونکي یې اوري لکه اسلام (اې) س ، لا ، م ، بستر (بې) س ، ت ، ر. بیا ځوتنو زده کوونکو ته نوبت ورکول کیږي چې داسلام اوبستر کلمه تلفظ کړي ، بیابه دهري کلمې لومړی توری دکلماتو د پیل په شان تلفظ کړی ، لکه : (اې ، بې) اواز لري په کلمو کې وتاکي. ښوونکی به اول دامین اوبلوغ دوهم دپسته اوترکي دکلمې دریم د پسته اوتکرار کلمې په آخر کې دپل اوتش کلمې په تخته لیکي. دلیکلو په وخت کې هر توری چې لیکي تلفظ کیږي هماغه ډول تلفظ کوي اوپه دې به ځان پوهوي چې دتاکلیو تورو تلفظ په کلمو کې یو توری اوحرکت دی. مګر شکل یې یو دی .

لکه : (اه)په امین کې .(به) په بلوغ کې(پو) پسته کې(پ) په ترپ کې .

(بې ، تې) په پسته اوتکرار کې. (په ته) په پل اوتش کې

امت ، اسلام ، امین ، بلبل ، بستر ، بلوغ ، پسته ، پسته ، پل

په څو زده کوونکو دري دري کلمې چې په ا ، ب ، پ ، ت ، پیل کیږي په لور آواز اوسمه لهجه ولولئ. ترکي ، تلوار ، تش

٤-ښوونکی د (کور کارونه)عنوان په تخته لیکي اوزده کوونکي یې دلیکلو ډول ته ګوري ، بیا یو څو تنه عنوان په لور آواز لولي.

٥ - زده کوونکو ته ویل کیږي چې تر عنوان لاندې څلور کرښې ځان سره ولولي. که څوک کومه کلمه نشي لوستلای ګوته پورته کوی ښوونکی ورځي او په لوستلو کې یې مرسته ورسره کوي . دپتې خولې تر لوستلو دمخه ښوونکی دغه سوال په تخته لیکي : دپلار اومور سره به څوک کارونه کوي ؟زده کوونکي دلیکلو په وخت کې په پورتني سوال ځان پوهوی اودمتن دلوستلو په وخت کې دسوال جواب ته ځانونه چمتو کوي.

کله چې زده کوونکو په پته خوله لوستل پای ته ورسول یو زده کوونکی په تخته لیکل شوی سوال په لور آواز لولي . یوه یادووزده کوونکو ته نوبت ورکول کیږي چې دسوال جواب تولګیوالوته واروولي. که څوک دجواب سره موافق نه وی ، دکتاب په استناد خپل دلیل وراندی کوي . څو تنو ته نوبت ورکول کیږي چې څلور واړه جملې په لور آواز اوسمه لهجه ولولي. پاتې دوې جملې اول زده کوونکي دځان سره لولي. تر لوستلو دمخه دغه سوال چې ښوونکی په تخته لیکلی لولي : څوک باید یو دبل سره مرسته وکړي ؟ زده کوونکي دواړه کرښې دځان سره لولي ، ترلوستلو وروسته دسوال جواب هغه څوک وایي چې ښوونکی دکارت په پورته کولو سره نوبت ورکوي تر جواب ورکولو وروسته څوتنه زده

کوونکي اول دواړه کړنې په لوړ آواز لولي بيا ټول درس (شپږ کړنې) په لوړ آواز اوسمه لهجه لولي .

٦-په کتابجو کي دليکلو مشق: زده کوونکي د پاسنی جدول څخه اول هغه دري کلمې په کتابجو کي په نيمه خط ليکي چې په (١) پيل شوی بيا هغه کلمې ليکي چې په (ب) پيل شوي. تر هغه وروسته په (پ) پيل شوی. وروسته هغه دري کلمې ليکي چې په (ت) پيل شوي. په پای کې يو يادوه تنه زده کوونکي خپلې ليکلې کلمې دکتابچې څخه په لوړ آواز لولي.

٧-کورنی وظيفه : زده کوونکو ته وظيفه ورکول کيږي چې د (کورد کارونو) تر عنوان لاندې متن دکتاب په شان په نسخو ليکي.

يادونه : ٤٨، ٤٩، ٥٠، او ٥١ مخونه د (٤٧) مخ په شان د تدريس مراحل لري . خو د (٤٨) مخ په لاندې اوباندينې جدولونو کې په ټ ث ، ج، چ ، څ، غ، ح، خ، دري دري کلمې پيل کيږي په همدې ډول د نورو مخونو کلمات په هر توری دا ګن په صورت کې دري دري کلمې راغلې دي.

٥٢ مخ :

اول حاضري کتل بيا کورنی وظيفه کتل تر هغه وروسته د متن لوستل اول په پټه خوله بيا په لوړ آواز د (٤٧) مخ په شان همدارنګه کورنی وظيفه ورکول. په کتابجو کې ليکلو مشق په برخه کې بايد اول دژمي ، بيا دمنی ، ترهغه وروسته د دوبي ورپسې د پسرلي برخې دکتابچې په شان يو پر بل پسې ليکل کيږي.

٥٣ مخ :

د حاضری او کورنی وظيفې تر کتلو وروسته . ښوونکی (د پښتو ژبې بشپړالفبې) عنوان په تخته ليکي تر بحث لاندې معلومات ورکولو وروسته چې د الفبې د ترتيب اهميت به پکې په ګوته کيږي که ښوونکی د زده کوونکو څخه د الفبې ترتيب وليکي او د پيدا کولو اسانتيا او ترتيب يې ورته وښيي او زده کوونکي په عملي ډول وربانديې پوه کړی ښه به وی.

په (قاموس ، د تلفون رهنما ، دائره المعارف...) کې کلمات او معلومات د الفبې په ترتيب رديف کيږي چې لوستونکي ته د ټاکلي معلوماتو او مطلب په موندلو کې ډيره اسانتيا ورپه برخه کوي.

١-زده کوونکی د بنی لوری (١٢) توري او د هغه نومونه اول د ځان سره بيا په لوړ آواز لولي. په همدې ډول د دوهم ستون (١٢) توري او نومونه ورپسې د دريم ستون (١٢) توري او نومونه په پای کې د څلورم ستون پنځه توري او نومونه اول د ځان سره بيا په لوړ آواز لولي.

د ښوونکي فعالیت

- ښوونکی په زده کوونکو باندې کتابونه ویشي او زده کونکو ته وایي د دغه کتاب نوم: هجایي لیک لوست د مور او ماشوم روغتیا دی. او دا دی په دوهمه وقایه هم شته.

- د دوهمې وقایې د وهم مخ را واړوی.

- بسم الله الرحمن الرحیم په لور آواز لولي.

- د یوه عدد په تخته لیکي او زده کوونکو ته وایي بله پاڼه را واړوئ.

- د تورې د ړې په شان د یوه پرعدد هر یو ګوته کیږدئ.

- که تاسو د ښي لوري د دوو رسمونو د کلمو د لومړیو آوازونو شکلونه (ا، ب) او د پاسنیو رسمونو د کلمو د وروستیو آوازونو شکلونه (آ، ه، ي، و) زده کړی له هغو څخه به اته هجاوې (آ، اه، اي، اوبا، به، بې، بو) او له هجاوو څخه به جوړې شویې کلمې د کلمو څخه به جوړې شویې جملې وپیژنئ، و به یې لولئ او وبه یې لیکلی شئ.

- د هرې برخې په باره کې چې خبرې کوي په کتاب کې یې زده کوونکو ته په ګوته کوي.

د زده کوونکي فعالیت

- زده کوونکي خپل کتابونه اخلي او په لومړی وقایه د کتاب عنوان پیدا کوي. بیا په دوهمه وقایه عنوان پیدا کوي.

- د دوهمې وقایې دوهم مخ را اړوي.

- په ښوونکي پسې په کتابو کې بسم الله الرحمن الرحیم په لور آواز لولي.

- د یوه عد (۱) لیکلو ته ګوري او پاڼه را اړوي.

- د یوه پر عدد په کتاب کې کوته ږدي.

- اول د ښي لوري رسمونو ته او د هغو د کلمو د لومړیو آوازونو تور یو ته، بیا د پاسینو رسمونو د کلمو د وروستیو آوازونو تور یو ته تر هغه وروسته د هجاوو جدول ته تر هغه لاندې کلمو ته تر کلمو لاندې جملو ته ګوري، د شکل او ځای سره یې ځانونه بلده وي.

- د تاکلي ځای سره ځانونه بلدوي.

په کتابچو کې دلیکلو مشق: دښي لوري (۱۲) توري اونومونه په ښه اونسخ لیک زده کوونکي دکتاب په شان لیکي اوپه ترتیب سره يې له یاده لیکلو ته ځانونه چمتو کوي.

کورنۍ وظیفه : د (۵۳) مخ توري اونومونه په کورکې دکتاب په شان لیکل اودالفبې تورۍ په ترتیب سره په یاد زده کول.

٥٤ مخ :

۱-دحاضرۍ اوکورنۍ وظیفې ترکتلو وروسته ښوونکی (دکلمو په پیل اوپای کې دتورو ترتیب) عنوان په تخته لیکی دلیکلو په وخت کې چې څه شی لیکي تلفظ کوي يې اودعنوان په مطلب په تولګي کې بحث کېږي.

۲-اول دلومړی ستون ورپسی ددوهم ستون په پای کې ددریم ستون توري دکلمو په سراوپای کې زده کوونکي اول دځان سره بیا په لوړ آواز زده کوونکي لولي.

۳-په کتابچو کې دلیکلو مشق: زده کوونکي ددوهم ستون کلمې چې عین توری په سر اوپای کې راغلي وي په کتابچو کې لیکي.

د (ح) له توري څخه وروسته د (ظ) تر توري پورې زده کوونکي هغه کلمات لیکي چې تاکلی توری د یوې کلمې په سر کې اودبلې کلمې په پای کې راغلی دی اوزیارباسی چې دتاکلیو [۱۹] تورو ترتیب په یاد زده کړي.

٤-کورنۍ وظیفه : زده کوونکي د (٥٤) مخ کلمات دکتاب په شان په کور کې لیکي تر څو چې امکان لري دالفبې ترتیب په یاد زده کوي.

٥٥ مخ :

۱-دحاضرۍ اوکورنۍ وظیفې ترکتلو وروسته ښوونکی د (الفبې او اضافت توری (د)) په تخته لیکي یو یادوه تنه زده کوونکي عنوان په لوړ آواز لولي که ښوونکی لازم وګڼي داضافت دتوري اغیزه په کلمو باندې په مثال کې ورته ځرګندوی لکه : سر، دسر. سترګه، دسترګې.

۲-زده کوونکي اول دښي ستون بیادمنځني ستون ورپسې دکیڼ لوري ستون اول دځان سره بیا په لوړ آواز لولي چې اول په توری بیا به په توري پیل شوې کلمه تر هغه وروسته داضافت توری اوکلمه لوستله کېږي لکه آ ـ آلوچه ـ دآلوچې

هجایی لیك لو ست
دمور اوماشوم روغتیا
غوره پندونه

مولف: سرمحقق پاکتر گل جان (ورور) وردک

پته: پنځم منزل، خیبر ویو پلازا، جمرود روډ
ACBAR TEL: 44392

کال ۱۳۷٤ (۱۹۹٤) دوهم چاپ

بسم الله الرحمن الرحيم

د ليك او لوست كلى

كه د كتاب په رسمونو كې د ښې لورې د رسمونو د الفاظو د لومړي آواز شكل او د پاسنيو رسمونو د الفاظو د وروستي آواز شكل زده كړئ او هم د هغو دوو توريو څخه جوړې شوې هجاوې او د هجاوو ليكلي شكلونه وپېژنئ ، په هر پښتو متن كې به د هجاوو كلى او ټول توري وپېژنئ . كه د توريـنو له حركاتو (ـَ ، ـِ ، ـُ ، ـْ) څخه هم كار واخلئ د پښتو لوستل به وكولاى شئ .

یادونه

هجایي لیك لوست ، د مور او ماشوم روغتیا ساتل چې د ژوند له پاره د واقعیتونو پرمخ تللی پروګرام دی ، دا منظم او مرتب پروګرام کولای شي چې د ځانې زده کړې له لارې په پرمختیایي هیوادونو کې په تېره بیا په افغانستان کې د ملیونونو نالوستو میندو او ماشومانو د ژوند د خوندي ساتلو په برخه کې مرسته وکړي .

دا مرتب او منظم ځاني هجایي لیك لوست د ښوونې او روزنې د وزارت ، د ښوونځیو د مدیریتونو ، د ښوونکو د روزنې له مؤسسو ، د ښوونکو له اتحادیو ، تعلیمي اتحادیو څخه غواړي چې د دې مهم اصل (لیك لوست زده کړی) په برخه کسې یو بل ته لاسونه سره ورکړي چې نور نو په قطعي ډول یو نالوستی د ژوند د سالمې ساتنې په باب له زده کړې څخه بې برخې پاتې نه شي .

کیدای شي چې ټول علاقه لرونکي بین المللي سازمانونه دا تعهد وکړي چې دغه د هجایي لیك لوست د زده کړې ، د میندو او ماشومانو د روغتیاپه برخه کسې حیاتي معلومات د اکثریت خلکو په درد وخوري او هم بین المللي مؤسسې یې د رواجولو او تدریس ژمنه وکړي ځکه چې دا کتاب (د ژوند له پاره واقعیتونه Facts for Life unit) څخه لا نور هم په پرمخ تللي ډول ترتیب او تنظیم شوی دی او تدریس یې یوه ورځ لا ښوونه غواړي .

څنګه چې د دې کتاب د چاپ حق د مؤلف دی نو هر سازمان چې د دې کتاب د نسخو غوښتونکی وي کولای شي چې هغه د چاپ په بیه یعني یو کتاب په اتیا سنټه یا معادل ۰ هغو وپیري .

په پای کسې له امان الله ساهو څخه مننه کوم چې د دې کتاب په اهتمام او ترتیب کسې یې مرسته کړې ده .

اډیټ کوونکي : محمد نسیم قسیمي ، الحاج حبیب الله رفیع او زرین انځور .

کمپوز : سید حسین هاشمي

په کتابچو کې دلیکلو مشق : دکښ ستون توری ، کلمه ورپس داضافت توری اوکلمه دکتاب په شان لیکي اود (ع) څخه تر (ی) پورې دالفبې ترتیب به په یاد زده کوي.

کورنی وظیفه : د ٥٥ مخ دجدول توري اوکلمات به په کورکې په ښه خط دکتاب په ډول په نسخ لیکي اوسبا ته به یې په ټولګي کې اول له خپلې کتابچې څخه لولي بیا به دالفبې توري په ترتیب سره له یاده وا یي.

